مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڑ ۲۰۲۶/۱۱/۱۶

لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(څلوېښتمه برخه)



دا د هغې یوې کورنۍ د ۱۰ تنو شهیدانو لپاره کیندل شوي مړیستنونه دي چې د خوست د ګربزو ولسوالۍ د مغلګي په سیمه کې د پاکستاني الوتکو په بمبار کې شهیدان شوي او پاکستاني چاروکو انکار کړی ؤ.

پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګاني(۳۶)
له څلورو هندي مهاجرو جنرالانو وروسته، د پاکستان د پوځ ستردرستیزان (۹)
جنرال سپد عاصم منیر احمد شاه، (له ۲۰۲۲ز. کاله، تر دې دمه. (۴)

اوږدو او جګړې

ومو لوستل چې د ۲۰۲۵ز. کال د اکتوبر پر ۹مه نېټه پاکستان د **(خبر توپان)** په نوم پر کابل، خوست، ننګرهار او پکتیکا باندې هوایي بریدونه وکړل، د اکتوبر په ۹مه، د پاکستان لومړي وزیر شهباز شریف د طالبانو حکومت ته په یوه خبرداري کې وویل:«زه غواړم نن افغانستان ته یو څرګند پیغام ورکړم، هغه دا چې دوی باید د پاکستان او ټي‌ټي‌پي تر منځ یو غوره کړي.»[1]
شهباز شریف دغه څرګندوني په خیبرپښتونخوا کې د ۱۹ پاکستاني پوځیانو له وژل کېدو وروسته په (بنو) کې په داسې حال کې کړې وې چې د پاکستان د پوځ ستر درستیز جنرال عاصم منیر یې تر څنګ ولاړ ؤ. د ۱۹تنو وژل شویو پوځیانو څخه ۱۲ تنه یې د سپټمبر په ۱۲مه نېټه، په وزیرستان کې له

[1] https://www.bbc.com/pashto/articles/cgq4vvweeweo:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وسلەوالو سره په جګړه کې وژل شوي او ۷ تنه نور يې د سپټمبر پر ۱۱مه نېټه په (کوز دېر) کې وژل شوي وو چې مسؤليت يې ټي‌ټي‌پي منلی ؤ.[2]

په همدې نېټه، د اکتوبر په ۹مه، د افغانستان د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خان متقي د پاکستان دښمن هېواد، هند ته په سفر ؤ. **امير خان متقي د اکتوبر په ۱۰مه نېټه، د هند له بهرنيو چارو وزير (جی‌شنکر) سره په يوه ګډه اعلاميه کې د جمو او کشمير سيمه د هند د قلمرو برخه وبلله.** د متقي د دغې وينا په غبرګون کې د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت سخت غبرګون ښکاره کړ او په اسلام‌آباد کې يې د طالبانو سفير ته په رسمي توګه خپله ژوره اندېښنه وړاندې کړه.
په ۲۰۲۱ز. کال کې چې طالبان پر افغانستان واکمن شول، د کشمير په اړه د دوی دريځ د پاکستان په ګټه ؤ.[3] خو دا د پاکستان ناولی سياست دی چې ټول ګاونډيان يې د ځان دښمنان کړل.

د پاکستان د ۲۰۲۵ز. کال د اکتوبر د ۹مې نېټې د هوايي بريدونو په غبرګون کې، افغان سرتېرو د اکتوبر په ۱۱او ۱۲مه نېټه، (شپه مهال) ډيورنډ کربنې ته څېرمه پر پاکستانيو پوستو غچ‌اخيستونکي بريدونه پيل کړل او پاکستانيو پوځيانو ته يې مرګ‌ژوبله واړوله.
د پاکستان ولسمشر، اصف علي زرداري، د افغانستان خوابي بريدونه په کلکه وغندل او دا يې هم وويل چې «افغانستان د هند تر اشغال لاندې د جمو او کشمير د مظلومو خلکو له آزادۍ او عادلانه مبارزې څخه مخ اړولی دی چې دا کار هم له تاريخ سره ظلم دی او هم له اسلامي امت سره».[4]

د پاکستان دفاع وزير خواجه اصف د پاکستان له (سما) شخصي ټلويزيون سره په خبرو کې، هند ته د امير خان متقي د سفر په اړه وويل: له افغانستان سره د پاکستان اړيکي تل (ترخې) وې او اوس نورې هم خرابې شوې دي. که تاسو د تاريخ شاليد وګورئ، افغانستان وروستی هېواد ؤ چې پاکستان يې په رسميت وپېژاند، له هغه وخته تر اوسه داسې يو حالت هم نه دی راغلی چې افغانستان له پاکستان سره د دوستۍ يا وروڼګلوۍ اړيکې پاللې وي، سره له دې چې دواړه هېوادونه د يو مذهب لرونکي دي خو دوی هيڅکله داسې اړيکه نه ده ساتلې.
خواجه اصف هند ته د مولوي متقي سفر، له هند سره په ګډه د پاکستان پر وړاندې په دسيسه جوړولو تورن کړ، ويې ويل:**ربښتيا دا دي چې افغانستان زمونږ پر وړاندې دسيسه جوړوي.** زمونږ سرتېري هره ورځ شهيدان[؟] کيږي، زمونږ ډېرو سرتېرو په دې جګړه کې خپل غړي له لاسه ورکړي دي، ډېری يې له خپلو ماشومانو جلا شوي دي، آيا د ګاونډيو ترمنځ داسې اړيکي وي؟

له هند سره د افغانستان د اړيکو په هکله خواجه اصف زياته کړه: حقيقت دا دی چې افغانستان پرون هم له هند سره ؤ، نن هم له هند سره دی او سبا به هم له هند سره پاتې شي.[5] لنډه دا چې د متقي د دغه سفر له امله پاکستاني چارواکي نه مړه کيدل او نه روغيدل.

---

[2]: https://kabulnow.com/2025/09/12-pakistani-soldiers-killed-in-ttp-ambush-in-south-waziristan/

[3]: https://www.bbc.com/persian/articles/cn4le7887rpo

[4]: https://www.suchtv.pk/pakistan/general/item/133593-president-zardari-pm-shehbaz-strongly-denounce-afghan-aggression.html
https://president.gov.pk/president-zardaris-response-to-afghan-aggression-2

[5]: https://www.bbc.com/pashto/articles/cg7dl8zx71mo

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د اکتوبر د ۱۵مې نېټې، د ۴۸ ساعتونو له لنډمهالي اوربند وروسته، د منځګړو هېوادونو له‌خوا د اوربند د اوږدولو هڅې روانې وې، پایله کې د قطر هېواد د اکتوبر په ۱۸مه نېټه یوه ګډه اعلامیه خپره کړه چې د اوربند او نورو اړخونو، په ځانګړي توګه په راتلونکي کې د ناستو په اړه ژمنه وشوه. په دغه اعلامیه کې د ډیورنډ کرښې په ځای د **(سرحد)** اصطلاح لیکل شوي وه، پاکستان او پلوي هېوادونو یې هڅه کوله په اعلامیه کې د ډیورنډ کرښې پر ځان د سرحد یا نړیوالې پولې نوم وکاروي خو د افغان پلاوي او افغان ولس د سخت غبرګون او حساسیت سره مخ شول چې پر وړاندې یې لوی شور او زوږ جوړ شو.

افغان دفاع وزیر مولوي محمد یعقوب مجاهد د ۲۰۲۵ز. کال د اکتوبر پر ۱۹مه نېټه وویل چې د ډیورنډ کرښې موضوع د دوحې پر خبرو تړاؤ نه لري او نه پرې خبرې شوي دي. د هغه په وینا: **«دغه موضوع پر دواړو ملتونو پورې اړه لري.»**
په پای کې د سرحد اصطلاح له اعلامیې څخه وایستل شوه[6] او د ۲۰۲۵ز. کال د اکتوبر په ۱۹مه نېټه، د افغانستان او پاکستان ترمنځ په یوه ګډه اعلامیه کې دواړو خواوو اوربند ومانه، په هوکړه لیک کې پر نورو شرایطو سربېره، ویل شوي وو چې افغانستان، پاکستان، ترکیه او قطر به د روان کال د اکتوبر په ۲۵مه نېټه، د ترکیې په پلازمینه استانبول کې بیا راټولیږي.

د پاکستان دفاع وزیر خواجه اصف یو ځل بیا د خپل عادت له مخې غوري وکړي، هغه غوښتل چې پر خپلو غورو افغان لوری تر فشار لاندې راولي او د خپلې خوښې یوې هوکړې ته یې اړ کړي.

د ۲۰۲۵ز. کال د اکتوبر له ۲۵مې تر ۳۰مې نېټې او د نومبر میاشتې په لومړیو کې په استانبول کې خبرې روانې وې چې خواجه اصف بیا پر افغان لوري فشار راوړ ویې ویل چې که خبرې ناکامې شي، وضعیت به لا پسې خراب شي او جګړه به ونښلي.[7]

هغه وو چې د نومبر په ۷مه، د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د پاکستان له‌خوا لنډې [ډاروونکي] نښتې رامنځ ته شوې چې ۵ تنه افغانان په کې ووژل شول او شپږ نور ټپیان شول.[8] د پاکستان دغو فشارونو کار ورنه کړ افغان پلاوی چې په کوم دریځ ولاړ ؤ هماغه دریځ یې تر پایه نیولی ؤ.

په استانبول کې د اوږدمهالي اوربند په هکله دواړو لورو د اوربند د دوام او د سرغړونو څار ومانه خو **د اختلافاتو د حل لپاره وروستۍ هوکړه ونه شوه.** او دواړو حکومتونو په جلا اعلامیو کې د خبرو د ناکامۍ پړه پر یوه بل واچوله خو اوربند پر خپل ځای پاتې شو.

په استانبول کې د سولې د خبرو لومړۍ پړاؤ له ناکامۍ سره مخ شو. له دې وروسته **پاکستان ګواښ وکړ چې د طالبانو واکمن حکومت به په بشپړه توګه له منځه یوسي.**[9] د پاکستان د اطلاعاتو وزیر، عطاالله تارړ، وویل چې د ترکیې او قطر په منځګړیتوب، خبرو اترو کومه عملي حل‌لاره رامنځ ته نه کړای شوه.».

---

[6]: https://www.dawn.com/news/1949845/pakistan-afghanistan-agree-to-immediate-ceasefire-after-doha-talks-state-media
[7]: https://www.wionews.com/world/afghanistan-pakistan-peace-talks-turkiye-khwaja-asif-war-warning-1762405314000
[8]: https://amu.tv/209609 /
[9]: https://www.reuters.com/world/asia-pacific/afghanistan-pakistan-peace-talks-failed-pakistan-minister-says-2025-10-28/

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پاکستاني دفاع وزیر، خواجه اصف، وویل چې افغان مذاکرهچیانو له پخوانۍ هوکړې په شا شول.[10]

افغان لوري د خبرو د ناکامۍ په اړه څرګندوني وکړې وې ویل: پاکستان ډېرې نامعقولې غوښتنې رامنځ ته کړې، افغان ویاند، ذبیح‌الله مجاهد، وویل: خبرې له دې امله ناکامې شوې چې **پاکستان له افغانستان څخه وغوښتل چې په پاکستان کې د ننه، د کورنۍ امنیت مسؤلیت پر غاړه واخلي.** هغه زیاته کړه چې دا کار د افغانستان له وس او توان څخه پورته دی.
د افغانستان د کورنیو چارو د وزارت مرستیال او د مذاکرهکوونکي پلاوي غړي، رحمت‌الله نجیب، وویل چې خبرې ځکه ناکامې شوې چې **پاکستان، د منځګړو په ملاتړ، دا غوښتنه وکړه چې هبت‌الله اخندزاده دې داسې فتوا صادره کړي چې په پاکستان کې روانه جګړه ناروا اعلان کړي.**[11]

له دغو ناکامو خبرو اترو څو ورځې وروسته، د ۲۰۲۵ز. کال د نومبر په ۱۱مه نېټه، **په اسلام‌آباد کې د سترې محکمې پر وړاندې یو سرتېرى (ځانمرګی) برید وشو، ۱۲ کسان ووژل شول او ۳۶ کسان ټپیان شول چې ۲۷ تنه وکیلان په کې وو.** د دغه برید مسؤلیت د ټي‌ټي‌پي وسلهوالو (جماعت الاحرار) واخیست.[12]

په اسلام‌آباد کې د دغه برید څخه یوه ورځ وړاندې د جنوبي وزیرستان په وانه کې پر یو پوځي ښوونځي (کیډټ کالج) باندې وسلهوال برید شوی ؤ. برید چې د نومبر پر ۱۰مه نېټه پیل شو، د پاکستان د پوځ او وسلهوالو تر منځ د نومبر تر ۱۱مې نېټې پورې جګړه روانه وه.[13]

د پاکستان چارواکي، په ځانګړي توګه دفاع وزیر خواجه اصف چې په اسلام‌آباد، بلوچستان او پښتونخوا کې خونړي بریدونه ولیدل نو سختې وېې[14] پسې واخیست او د جګړې حالت یې اعلان کړ، هغه وویل:**«پاکستان په جګړه کې دی.»**
خواجه اصف ادعا وکړه چې افغانستان د ټي‌ټي‌پي د بریدونو مخه نه نیسي او په افغانستان کې یې پناه ورکړې ده. نومورې زیاته کړه چې له دې وروسته د کابل پر واکمنانو د خبرو اترو لپاره هیله لرل به تېروتنه وي. خو افغان حکومت هر ډول مسؤلیت رد کړ.[15]

خواجه اصف له یوې پاکستانۍ ورځپاڼې سره په مرکه کې وویل چې له طالبانو سره د ویجاړو شویو اړیکو د بیا رغولو لپاره د پاکستان شرایط په دې پورې تړلي دي چې افغان طالبان په لیکلي بڼه تضمین ورکړي چې له پولې [کرښې] هاخوا به بریدونه دروي. د ده په وینا، دغه ژمنه باید سیمه‌ییز ځواکونه هم تضمین کړي، لکه ترکیه، سعودي عربستان، متحده عربي امارات، ایران، چین او قطر.[16]

پاکستاني چارواکي چې دننه په پاکستان کې د خپل امنیت په ټینګښت کې پاتې راغلي دي، کله چې په پاکستان کې د ټي‌ټي‌پي او بلوڅ وسلهوالو لهخوا بریدونه وشي نو پره یې پر افغانستان او هندوستان

[10]: https://www.dawn.com/news/1951757
[11]: https://atlaspress.news/en/2025/11/12/pakistan-taliban-fatwa-war-request-security-talks/
[12]: https://www.npr.org/2025/11/11/nx-s1-5605375/a-suicide-bomber-targets-an-islamabad-court-killing-12-people-and-wounding-27
[13]: https://www.afintl.com/en/202511117539
[14]: وېنه: د خوست په کړدود کې وېنه، وېرې، ترهې او لار ورکې ته وایي. فلان سړی وېې اخیستی ؤ.
[15]: https://www.afintl.com/en/202511115749
[16]: https://atlaspress.news/en/2025/11/16/pakistan-demands-taliban-written-guarantee-cross-border-attacks/

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اچوي. هند چې پياوړي هوايي او ځمکني ځواکونه لري، پاکستان يې پر وړاندې هېڅ نه شي کولی، يوازې تورونه پورې کوي او بس خو افغانستان چې اوس مهال هوايي او دافع هوايي ځواک نه لري، پاکستان د شپې لەخوا خپلې جګړەييزې الوتکې الوځوي او پر افغان خاوره ټپری کوي.

پاکستان چې نور څه يې له وسه نه کيدل، د انګرېز استعمار په څېر يې د افغانستان سره پوله [ډيورنډ کرښه] د نامالومې مودې لپاره وټرله او **د پولې د پرانيستلو په بدل کې يې له طالبانو څخه په پاکستان کې د ننه د امنيتي تضمينونو غوښتنه وکړه.**[17]

افغان لوري د پاکستان د دغه ګام په غبرګون کې له پاکستان سره په بشپړه توګه سوداګري بنده کړه، افغان چارواکو د نومبر په ۱۴مه نېټه، اعلان وکړ چې افغان سوداګرو ته دري مياشتې وخت ورکول کېږي چې په دې موده کې له پاکستان پرته، نورو سوداګريزو لارو ته مخه کړي. افغان حکومت له سوداګرو وغوښتل چې خپله سوداګري د ايران د چابهار بندر ته واړوي چې د افغان بارونو لپاره د بندري تعرفو کچه ۳۰ سلنه راکمه شوې وه.

د پاکستان د دفاع وزير خواجه اصف له جيو نيوز سره په خبرو کې وويل چې د افغانستان دغه پرېکړه پاکستان ته هېڅ اقتصادي زيان نه رسوي.[18]

متل دی چې (کم‌عقل بل ته دومره زيان نه رسوي، لکه خپل ځان ته چې زيان رسوي.) پاکستاني چارواکي چې د خپلې ناپوهۍ له امله په خپله راتلونکي نه پوهيږي او د ټولو وړاندوينو پايلې يې سرچپه راخيږي، دوی فکر کاوه چې د لارو د تړلو له امله به افغان ولس له مالي ستونزو سره مخ کړي او په دې توګه به خپلو موخو ته ورسيږي، برعکس هغه کوهی چې دوی د افغانانو په لار کې کيندلی ؤ، هماغه خپل کوهي ته ورپرېوتل چې د لارو د تړلو له کبله پاکستان ته خورا ډېر زيانونه واوښتل.

خو د پاکستان لەخوا افغانستان ته د لارو تړلو له امله، د زيان پر ځای ګټه ورسيده، افغانستان چې د پاکستان پر ځای يې نورو بديلو لارو ته مخه کړه، سوداګري او راکړه ورکړه يې پراخه شوه. «د نړيوال بانک په وينا، د پاکستان له خوا د پولې له تړل کېدو سره سره، د افغانستان صادرات د ۲۰۲۵ز. کال د اکتوبر په مياشت کې زيات شول. نړيوال بانک د دې زياتوالي لامل هند او ازبکستان ته د صادراتو ډېريدل وبلل.»[19]

د ټي‌ټي‌پي لەخوا د ۲۰۲۵ز. کال، د نومبر په ۲۴مه نېټه، د پېښور د سرحدي ځواکونو پر مرکز وسلەوال برید ترسره شو، سرتېرو لومړی د ودانۍ پر لوبه دروازه ډزې وکړې، يو تن سرتيري په دروازه کې چاودنه وکړه او نورو د ننه د ننوتلو هڅه وکړه، **پايله دا شوه چې ۳ تنه امنيتي کسان ووژل شول او ۱۱ نور ټپيان شول او وسلەوال سرتيري هم ووژل شول. مسؤليت ټي‌ټي‌پي پر غاړه واخيست.**

د دغه برید په غبرګون کې پاکستان د نومبر په ۲۴- ۲۵مه، نيمه شپه د خوست ولايت د ګربزو ولسوالۍ د مغلګي په سيمه کې د يو ملکي کس کور بمبار کړ، **پاکستان په دغه برید کې د يوې کورنۍ ۱۰ تنه ووژل چې ۹ ماشومان (۵ هلکان او ۴ نجونې) او يوه ميرمن په کې ووژل شوه.**[20]

---

[17]: https://kabulnow.com/2025/12/pakistan-border-with-afghanistan-to-remain-closed-until-taliban-provide-security-gurantees/

[18]: https://www.reuters.com/world/asia-pacific/afghanistan-shifts-trade-iran-route-avoid-pakistan-closures-2025-11-14/

[19]: https://www.afintl.com/en/202511238062

[20]: https://www.cbsnews.com/news/afghanistan-pakistan-violence-taliban-ttp/

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په همدې نېټه، د پکتیکا ولایت د برمل ولسوالۍ د شریف‌خېلو په کلي کې د پاکستان د هوایي بریدونو له امله دوه ماشومان ټپیان او یو کور ویجاړ شوی دی.
همدا رنګه د کونړ ولایت د اسعدآباد بنار د ساګي په سیمه کې د پاکستاني پوځ د بریدونو له امله دوه ښځې او یو ماشوم ټپیان شوي وو.

افغان چارواکو د پاکستان بریدونه وغندل، دا یې پر افغان خاوره او حاکمیت تېری وبالله او د مناسب ځواب ګواښ یې وکړ.

پاکستان دا تورونه رد کړل. د پاکستان د پوځ ویاند وویل چې پاکستان دغه بریدونه نه دي کړي خو د ملګرو ملتونو د افغانستان مرستندوی پلاوي (UNAMA) په راپور کې د خوست د ۱۰ تنو د وژل شویو کسانو ترڅنګ د پکتیکا او کونړ د ټپیانو جزییات هم ثبت شوي دي.[21]

بلې خوا ټي‌ټي‌پي وسله‌والو د نومبر په ۲۶-۲۷مه، شپې مهال په هنګو کې د پولیسو پر پوستې برید وکړ، **په نښته کې ۳ تنه پولیس ووژل شول او ۲ تنه ټپیان شول.**

د نومبر په ۲۷مه نېټه، ټي‌ټي‌پي سرتېرو د لر دېر د کورای سکاوټس پر پوځي مرکز برید وکړ، **په ډزو کې یوه ښځه ووژل شوه.**

د نومبر په ۲۹مه په بنو کې هم پر احمدزي نومي پولیس مرکز وسله‌وال برید وشو، **۵ تنه پولیس ټپیان او ۳ تنه سرتیري ووژل شول.**

د نومبر پای، ۳۰مه نېټه، وسله‌والو د ډېره اسماعیل خان په کلاچي سیمه کې د پاکستان د ځانګړو ځواکونو پر پوځي کاروان د سړک غاړې چاودنه وکړه، په دغه برید کې **دوه پاکستاني پوځیان ووژل شول او یو تن ډګرن سخت ټپي شو.**[22]

بل لور ته د بلوڅ آزادۍ غوښتونکو[23] وسله‌والو لەخوا د ۲۰۲۵ ز. کال **د نومبر په میاشت کې لږترلږه ۳۷ مختلف بریدونه شوي وو،** د نومبر په میاشت کې د بلوڅانو او پښتنو بریدونه تر دې کچې رسیدلي وو چې یوه ورځ داسې نه وه چې په هغې کې د ټي‌ټي‌پي او بلوڅ وسله‌والو برید نه وي شوی او دا هم شوني ده چې په همدې میاشت کې نور بریدونه هم شوي وي خو مورږ همدا پورته مالومات ومونډل چې پاکستاني جنرالان یې ترستوني رسولي ؤ.

د ۲۰۲۵ز. کال د ډسمبر په میاشت کې پر پاکستاني ځواکونو باندې د ټي‌ټي‌پي او بلوڅ وسله‌والو لەخوا په لس‌ګونو بریدونه وشول چې څو مهمې بلګې یې لیکو:

---

[21]: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/2026-02/ENGLISH%20-%20UNAMA%20HRS%20paper%20on%20cross- border%20civilian%20casualties_2.pdf

[22]: https://www.satp.org/terrorist-incident-text/Pakistan/tehreek-e-taliban-pakistan-ttp_Nov-2025

[23]: د پاکستان پوځي جنرالانو پر وړاندې په بلوچستان کې د بلوڅانو درې ډلې جګړیږي: د بلوچستان د خپلواکۍ پوځ (BLA) د بلوچستان د ازادۍ جبهه(BLF) بلوچستان جمهوري غوښتونکي ساتونکي(BRG)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ډسمبر پر ۱۹مه نېټه، د شمالي وزیرستان د بویې په سیمه کې د ټي‌ټي‌پي له‌خوا د چاودیدونکو توکو یو ډک موټر پر پوځي کمپ برید کړ، **۴ تنه پوځیان ووژل شول ۱۵ تنه ملکي وګړي، د ښځو او ماشومانو په ګډون ټپیان شول.**

د ډسمبر په ۲۰مه نېټه، د خیبر په برکمبرخیلو کې د پاکستاني ځواکونو پر موټر د سړک غاړې چاودنه وشوه **۳ تنه عسکر ووژل شول او ۳ تنه ژوبل شول.**

د خیبر پښتونخوا د کرک په سیمه کې د ډسمبر په ۲۳مه نېټه، د پولیسو پر موټر د سړک غاړې چاودنه وشوه او بیا ډزې پیل شوې چې له امله یې **۵ تنه پولیس ووژل شول،** د دغې پېښې مسؤلیت ټي‌ټي‌پي ومانه.

د ډسمبر په ۲۷مه نېټه، ټي‌ټي‌پي ادعا وکړه چې د خیبرپښتونخوا په بېلابېلو سیمو کې یې په څو بریدونو کې **۳۵ تنه پاکستاني پوځیان وژلي او ټپیان کړي دي.**

همدا رنګه، د ۲۰۲۵ز. کال د ډسمبر په میاشت کې بلوڅ وسله‌والو په بلوچستان کې د پاکستان پر امنیتي ځواکونو او د پاکستان پر ګټو باندې له ۴۰ ډېر بریدونه کړي دي، داسې ورځې هم وې چې په یوه ورځ کې ۳-۴ بریدونه هم شوي دي. لوستونکي کولی شي د ټي‌ټي‌پي او بلوڅ وسله‌والو ورځني بریدنو او د پاکستاني ځواکونو د مرګ ژوبلې او بریدونو په اړه د سویلي اسیا د ترهګرۍ پورټال او PICSS په ځیر ځېرنیزو بنسټونو کې ولولي:
South Asia Terrorism Portal
https://www.satp.org/terrorist-activity/pakistan

د ۲۰۲۵ز. کال د نومبر او ډسمبر په میاشتو کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سولې هڅې د ترکیې، قطر، ایران او سعودي عربستان په منځګړیتوب دوام درلود خو په پاکستان کې د ټي‌ټي‌پي بریدونو، پر افغانستان د پاکستان د هوایي بریدونو او د امنیتي مسؤلیتونو پر سر د ژورو اختلافاتو له امله خبرې اترې یوې تل‌پاتې سولې ته ونه رسېدې.

کله چې پاکستاني چارواکي او جنرالان، په ځانګړي توګه جنرال عاصم منیر د خبرو له لارې افغان حکومت، ټي‌ټي‌پي او بلوڅ سرتیري له خپلو موخو او هوډ څخه ونه ګرځول نو د دوی پر وړاندې یې سپکې سپورې، ګوتځنډنې او عملي کړنې ترسره کړې. جنرال منیر د ۲۰۲۵ز. کال، د ډسمبر په ۱۰مه نېټه، په اسلام‌آباد کې د دیني علماوو یوه لویه غونډه جوړه کړه، هغه په خپله وینا کې د افغانستان پر حکومت غږ وکړ چې **افغانستان دې د پاکستان او TTP تر منځ یو غوره کړي،** هغه ادعا وکړه چې د پاکستان پر وړاندې ډېرې ترهګریز بریدونه له پولې هاخوا تنظیمېږي او افغانان په کې ښکېل دي.[24]

جنرال منیر د ټي‌ټي‌پي او د بلوڅ آزادۍ غوښتونکو پر وړاندې سخته پوځي تګلاري امر وکړ چې له امله یې په نښه شویو سیمو او د وسله والو په پناه‌ځایونو کې استخباراتي او پوځي بریدونه ګړندي شول.

[24]: https://www.thehindu.com/news/international/cdf-asim-munir-tells-afghan-taliban-to-choose-between-ttp-and-pakistan/article70423608.ece

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

جنرال منير په پښتونخوا او بلوچستان کې د امنيتي حالاتو د کنټرول په موخه له سياسي او قبايلي مشرانو سره ليدنې وکړې او پر ټي‌ټي‌پي وسلەوالو او بلوڅ سرتيري يې فتنة الخوارج او د بهرنيو هېوادونو د نيابتي ډلو ټاپې ووهلې.[25]

نېټه: ۲۳/۸/۱۴۰۵

نور بيا

د ښاغلي محمد انور اڅړ نورې ليکنې په دې لينک کې ولولئ.

[25] https://www.dawn.com/news/2024303:

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ